# پښتانه او د بمونو مور

نبي ګل محمدزئی

د شوروي اتحاد (سویټ یونین) د ماتېدو نه بس امریکه د دنیا یو ځان له داسې طاقت پاتې شو چې څه وخت او چرته غواړي کله د مذهب او کله د فوج په ذریعه د دنیا ګټ ګټ کښې خپل مقصدونه پوره کوي. لکه د مثال په طور روس له ئې د شکست لپاره د افغانستان استعمال وکړو. افغان جنګیالو ته ئې د مجاهدینو خطاب ورکړو. وسله ئې ورکړه او چې کله ئې خپل مطلب پوره شو نو هم دغه مجاهدین بیا دهشت ګرد وګرځولے شول. او نن افغانستان کښې افغان خپل ورو وژني.

افغانستان باندې د امریکې یو غیر ایټمي بم حمله وکړه چې د ننګرهار په ضلع آچین کښې ماښام اووه نیمې بجې وشوه. د دې بم وزن یوویشت زره شپږ سوه پونډه یعنې یوولس ټنه ؤ. د بم د ایټم بم نه پس د ټولو نه زیات نقصان او تباهي کوونکے ګڼلے شي. دې بم ته (مادر اف آل نمبر) یعنې د بمونو مور وئیلے کېږي. افغانستان کښې په ړومبي ځل دا قسمه چاودنه وشوه چې ډېر زیات تعداد کښې خلق شهیدان شول او تباهي هم ډېره زیاته وشوه. پښتانه د بمونو عادت خلق دے او هره ورځ چاودنې کېږي خو چاودنه ډېره زیاته طاقت وره ګڼلے کېږي. کۀ مونږ لږ وروستو سوچ وکړو او وګورو نو انساني تاریخ کښې امریکې د ایټم بم استعمال کړے دے په شپږم اګست ۱۹۴۵ء کښې د سحر اته بجې د امریکني جهاز بي ۲۹ په هیرو شیما باندې (جاپان) ,,لعل یوائے،، نومې وړومبے ایټم بم وغورځولو. دې بم په دیرش سیکنډه کښې تقریباً یو نیم لاکھ انسانان ووژل او دغسې اتیا زره کسان ئې معزوره کړل. د دې نه درې ورځې پس ئې هم د جاپان دویم ښار ,,ناګاساکی،، باندې دویم ایټم بم ور وغورځولو چې د هغې بم نوم ,,فیټ مین،، ؤ. دې بم څه کم اتیا زره جاپانیان د مرګ په خله کښې ورکړل او د دغه دواړه ښارونه د خاورو ډیرے جوړ شول. چې خواو شا دوه نیم لاکه کسان پکښې مړه شول.

د دې نه پس په پوره دنیا کښې د امریکې د ظلم غوغا خوره شوه. بدې ردې خلقو ووئیل د انسانیت دشمن نعره ووهل شوه. مشرق او مغرب د دې ظلم مخالفت وکړو. او دا طمع را پېدا شوه چې بیا به امریکه داسې ونۀ کړي. او پکار هم دا وه چې امریکه به توبه ګاره شي خو د دې نه پس امریکه نوره بهادره شوه. کۀ تاریخ ته وګورو نو د ۱۹۴۵ نه ۲۰۱۷ پورې ۱۱۹ جنګونه شوي دي چې په هغې کښې د بارودو استعمال شوے دے. کورونه پکښې سوځېدلي دي. ښارونه وران شوي دي. مرګونه په کښې شوي دي. د مړو او د زخمیانو فریادونه تر اسمان پورې رسېدلي دي. د

دې جنګونو په شا بس يو ملک ؤ او هغه ملک امريکه ده. څه جنګونه امريکې خپله کړې دي. په څه کښې شريک شوے دے. او څه کښې ئې خپله وسله استعمال کړې ده. په کومو جنګونو کښې چې امريکه نۀ وه نو بيا هم د مړو د وينو څاڅکي نن هم د امريکې په لستوڼو باندې ښکاري.

په دې جنګونو کښې د ۱۹۹۲ء پورې يو کروړ ۹۰ لاکه او ۷۰ زره انسانان مړه شوې دي. په شلمه صدۍ کښې د انساني تاريخ د ټولو نه خونړي او لوئې جنګونه شوې دي. وړومبنې جنګ عظيم ۱۹۱۴ء نه تر ۱۹۱۸ء پورې وشو چې څلور کاله ؤ. چې په يورپ کښې ؤ او خواو شا څلور کروړه انسانان پکښې مړه شول. دويم جنګ عظيم ۱۹۳۹ نه تر ۱۹۴۵ء پورې ؤ چې شپږ کاله ؤ. په دې جنګ کښې د امريکې او جاپان په شمول شپږ نيم کروړه خلق مړه شول. دا ټول جنګونه امريکې،يورپ او مغربي ملکونو د خپلو مفاداتو دپاره کړې دي.

هم دغسې امريکې په ويتنام کښې لس لاکه کسان مړه کړل،په عراق او افغانستان کښې دغه سلسله لا روانه ده. د شام او فلسطين خلق د دې نه علاوه دي.

د شوروي اتحاد د ختمېدو نه پس امريکې د ,,نيو ورلډ آرډر،، منصوبه په ډاګه کړه چې اوس به په ټوله دنيا کښې د امريکې حکومت وي. او چې چرته وغواړي هلته به د خپلو مفادو دپاره جنګېږي. خو دلته دا خبره د غور فکر وړ ده چې دا دعوې قيصر و کسرى هم کړې وې خو نن د هغوي نوم نښان نشته په کال ۱۹۴۵ کښې جرمني هم داسې دعوې کړې وې خو نن هغوي خاموشه پراته دي. لکه د بوډا منزري په شان. هم دغسې اوس امريکې د يورپ نه خطره نشته. بلکې ايشيائي قومونه خطره ګڼي. او خاص طور پښتانه چې د هغوي دين مذهب سره ډېر نزدې تعلق دے کۀ مونږه وګورو نو په افغانستان کښې کال ۲۰۱۲ء عراق باندې ۲۰۰۳ او په شان باندې ۲۰۱۲ء نه تر نن ورځې پورې قتل عام شروع دے او بيا په پاکستان کښې خاص طور د پښتنو سيمه د جنګ مرکز دے. د وينو يو سمندر دے چې روان دے دا جنګ د مذهب يا د مسلک په نامه تود دے. او نۀ ده معلومه چې د وينو دا جام به کله ډکېږي. نۀ ده معلومه چې کمه لوبه روانه ده چې لر او بر پښتانه ولې يو بل سره مشت او ګريوان دي. امريکه هم دا غواړي چې هيڅ کله افغانان او پښتانۀ يو نۀ شي.

په خپل وطن کښې جنګ را په سر دے
هلته هم زۀ مرم دلته هم زۀ مرم

او مونږ به تر کومې پورې دا وايو چې:

څو چې اخلاص د سرو ګلونو کر نۀ وي
څو چې پسرلے په سيمه غر نۀ وي
ياره تر هغې کلي ته مۀ راځه

خو کله نه چې مونږ د عدم تشدد لاره پرېښودې ده او د نورو قومونو خلق زمونږ مشران شوې دي بلکې مونږ چې هغوي ته خپل ځانونه ور وغورځول نو بيا نۀ ورورولئ پاتې شوه او نۀ يو والے پاتې شو. خو سائل صيب نا امېده نۀ دے هغه وائي چې:

تا وئيل زمونږه کلے بلا بلا ښکلے دے
يو خوا ته سيند بهېږي بل خوا ته غاړې غرونه

☆☆☆